# اې کیسه

د ناول د جوړښت لومړی بنسټیز توکی

لیکچر: پوهنمل مصطفی صفا



# ۱: کیسه:

- یو ادبپوه وایي:

(په ناول کې که نور څه وي او که نه؛ خو کیسه باید خامخا پکې وي.)

- کیسه په ناول کې تر ټولو مهم ارزښت لري، ځکه همدا کیسه ده چې په لوستونکو څو سوه مخه کتاب په تلوسه لولي او خوند ورڅخه اخلي.

- که کیسه له داستاني او کیسه ایزو ادبیاتو لرې کړل شي، نو یاد ادبیات ممکن د یوه څېړنیز متن په څېر وچ او له هنره تش دریځ غوره کړي.

# بېلګه: (بېنوايان) د (ويکټور هوګو) اثر:




د بېنوايان اثر مرکزي کرکټر «ژان والژان» نومېږي، ژان والژن بدرنګه څېره لري، په يوه بېوزله کورنۍ کې يې سترګې غړولې، د ماشومتوب په دوران کې له زده کړو محروم پاتې کېږي، د نوې ځوانۍ پر مهال مور او پلار له لاسه ورکوي. دی د خپلې کونډې خور کره ځي، د هغې اووه اولادونه وي او زياته بېوزله وي. دی خواري ورته کوي. يو ژمی چې هغه سخت وړي دي. دی له يوې نانوايۍ د ډوډۍ د راپټولو هڅه ورته کوي. په غلا کې ناکامېږي. پوليس يې نيسي او شل کاله زندان پرې تېرېږي. کله چې له زندانه آزادېږي، څو ورځې په ښار کې وړی او لالهانده ګرځي، وروسته څو ځايه بيا غلا کوي، نيول کېږي، آزادېږي...

بالاخره يوه ځنګله ته ځي، هلته ژاړي او په تېرو اعمالو باندې کلکه توبه وباسي. له دې وروسته يو داسې انسان ورڅخه جوړېږي چې د ژوند تر پايه پورې له نورو سره مرسته کوي. دی څه مهال خپل نوم اړوي او له خلکو سره د بې ساريو مرستو له مخې په «مادلن بابا» مشهورېږي او لکه څنګه چې يې يو وخت بد کارونه په پټه کول، نور ښه کارونه په پټه سرته رسوي.



# د کیسې څرنګوالی:

- ځینې کیسې قیاس ته نږدې او ځینې له قیاسه ډېرې لرې وي. موږ که لرغونو کیسو او داستانونو ته وګورو، ډېری یې له قیاسه لرې دي.

- دا چې ناول د پخوانیو کیسو په پرتله ډېر لوستونکي او مینه وال لري. لامل یې دا دی چې په ناول کې د کیسې بنسټ پر انساني ژوند او ورځنیو پېښو ولاړ وي.

- په اوسنۍ ناول لیکنه کې یو تکنیک دا هم دی چې ورځنۍ ریالیستکي پېښې له قیاسه لرې او اسطوره اي پېښو سره غاړه غړۍ کوي. دغه تکنیک زیاتره د جادویي ریالیزم په سبک لیکل شویو ناولونو کې زیات کارېدلی دی.

# بېلگه: د (سل کاله یوازېتوب) ناول:




د گابریل گارسیا مارکېز (سل کاله یوازېتوب) ناول چې د نوبل جایزه گټلې، د پښتو ژبې په شمول په ځلوېښتو نړیوالو ژبو ژباړل شوی او په ټوله نړۍ شاوخوا پنځوس میلیونه پلورل شوی. دغه ناول د «بوئنډیا» د کورنۍ د شپږو نسلونو کیسه کوي، دا یوه داسې کورنۍ ده چې کله ناکله پکې لکۍ لرونکي ماشومان زیږي. د دې کورنۍ مشر «خوزه ارکیډو» نومېږي، دا سړی په خپله سیمه کې جنگ کوي او یو بلې سیمې «ماکونډو» ته ځي، هلته یې اولادونه پیداکېږي او نورې کورنۍ هم پسې ورځي او دا ځای په یوه ښار بدلېږي. خوزه دلته کله ناکله د ده په لاس وژل شوی سړی په خوبويني، چې په خوب کې ورته گواښونه کوي. دغې سیمې ته کله ناکله بنجاره ولا راځي، هغوی جادویي شیان ورسره راوړي، د خلکو طالع گوري، وړاندويني کوي. په دې ښار وختونه تېرېږي، د خوزه د اولادونو شپږ نسله وربانديې واکمني کوي، جگړې کېږي. په ماکونډو کې د بېخوبۍ وبا خپرېږي، د هېرولو ناروغې پیداکېږي. د بنجاره ولا مشر «ملکیداس» خپل یادښتونه لیکي. یو مهال د دې کورنۍ وروستۍ واکمن له یوې ښځې سره واده کوي ، له هغې بیا لکۍ لرونکی ماشوم زیږي، ښځه یې په لیدو مړه کېږي، سړی په ښوونځي کې ځان بندي کوي، هلته د ملکیداس یادښتونه لاس ته ورځي. هغه چې لولي هلته د خپل ځان په اړه وړاندوینه ويني، سمدلاسه یې زوی وریادېږي، گوري چې هلک نیم مېږیانو خوړلی. همدغه پېښه هم د ملکیداس په یادښتونو کې لولي. دی یادښتونه په تلوسه اړوي، په پای کې یې د خپل ژوند د پای ته رسېدو خبره لولي. د هغه په لوستو، دی هم مړ کېږي او یوه زوروه سیلۍ راځي او ټول ښار له منځه وړي.



# د کیسې د لید یا بیان زاویه:

- د کیسې د بیان زاویه یا د بیان لار موږ ته دا راښيي چې کیسه څوک بیانوي او یا راوي څوک دی.

- ټول داستاني آثار د بیان له دریو زاویو څخه وړاندې کېږي:

۱- متکلم یا لومړی شخص (زه/ موږ)

۲ - مخاطب یا دویم شخص (ته/ تاسې)

۳ – غایب یا دریم شخص (هغه/ هغوی)

- د نړۍ زیاتره داستاني آثار معمولاً د لومړي شخص (متکلم) او دریم شخص (غایب) له زوایې وړاندې شوي دي.

# ١: د لومړي شخص د ليد زاويه:

- ❑ په دې ډول زاويه کې د داستان اصلي کرکټر په خپله ژبه کيسه بيانوي او داستان د لومړي شخص يا متکلم له ليده بيانيږي.

- ❑ په دغه زاويه کې داسې ښکاري، لکه ليکوال چې په خپله کيسه بيانوي، خو په اصل کې دا د ليکوال کيسه نه، بلکې د يوه کرکټر داستان وي.

# د لومړي شخص د لید زاویې بېلګه: له (پردي) ناول څخه




مدیر خبرې وغځولې، خو ما یې خبرو ته غوږ ونه نیو. شېبه وروسته یې راته وویل: «ګومان کوم د مور لیدل دې غواړې؟» بې له دې چې پوښتنې ته یې ځواب ورکړم، پاڅېدم، زه یې تر وره پورې بدرګه کړم. پر زینو د ښکته کېدو پرمهال یې راته وویل: «مور مې دې د مړیو کوچینۍ خونې ته یووړه، چې د هغې مرګ پر نورو بوډاګانو اغېز ونه کړي. دلته چې هر څوک ومري، نور بوډاګان بیا دوه درې ورځې په خپل حال نه راځي او دا پېښه موږ عذابوي» ...

زه د مړیو خونې ته پسې ننوتم. کوټه روښانه وه. د کوټې دېوالونه په چینه سپین شوي وو. په کوټه کې څو څوکۍ او مېزونه اېښودل شوي وو. تابوت پر دوو مېزونو د خونې په منځ کې اېښودل شوی و او ځانګړی سرپوښ یې لاره. د تابوت مېخونه چې تر دې دمه ښه نه وو ټک وهل شوي، له ورایه لیدل کېدل. تابوت ته نږدې عربه خدمتګاره ناسته وه. اسماني رنګ حجاب یې اغوستی و. په همدې وخت کې دروازه وان په ما پسې راننوت. هغه په منډه راغلی و؛ ځکه یې ساه بنده بنده کېدله...

# د لومړي شخص د لید زاویې ښېګڼې:



- یو داستان که د لومړي شخص له زاویه لیده بیان شي، د داسې داستان تصادفات او حتی ځینې نادره او خارق العاده واقعیات هم د لوستونکو لپاره د منلو وړ وي.

- د لید په دې زاویه کې د لوستونکي او راوي ترمنځ اړیکه نېغه او صمیمانه وي. په دغه انداز کې لوستونکی په دې ذهنیت وي چې راوي ما ته خپل داستان خپله بیانوي او خپله مخامخ راته ناست دی.

# د لومړي شخص د لید زاویې نیمګړتیاوې:



- د لید په دې زاویه کې راوي یوازې خپل افکار، خیالات او احساسات په ښه توګه بیانولای شي او د ناول د نورو کرکټرونو د احساساتو، داخلي افکارو، نظریاتو او نورو ځانګړنو له بیان څخه عاجز وي.

- د لید په دې زاویه کې د لیکوال لاس تنګ وي، هغه نشي کولی د ناول د ټولو یا ځینو کرکټرونو باطني نړۍ له لوستونکو سره شریکه کړي، ځکه دی یوازې د یوه کرکټر له خولې داستان بیانوي.

# ۲: د دویم شخص د لید زاویه:

۲

- ❑ په دې زاویه کې راوي کیسه بل چا ته په خطاب کې بیانوي، لکه له پېښې سره چې هغه مخامخ شوي وي او اوس راوي کیسه ورته کوي.

- ❑ په دغه زاویه کې راوي د (تا، ته) له ضمیرونو څخه په کار اخیستنه د ناول کیسه بیانوي. د دغې زاویې پر اساس ډېر لږ ناولونه او داستاني آثار بیان شوي دي.

# د دویم شخص د لید زاویې بېلګه: له (آئورا) ناول څخه




په ورځپاڼه کې خبرتیا لولې. داسې فرصت هره ورځ نه وي. لولې یې او بیا یې لولې. ته وا، له تا پرته بل هېڅوک نه ښيي. حتی پام دې نه دی چې د سګرټ ایرې دې د چایو په هغه پیاله کې لوېږي، چې په دې ارزانه او چټل رستورانټ کې دې راغوښتې دی. یو ځل بیا یې لولې: «د کار موندنې خبرتیا؛ ځوان، جدي، منظم او په فرانسوي ژبه بشپړ واکمن تاریخپوه... په میاشت کې څلور زره پېسو، بشپړ خواړه، د کار او خوب لپاره ځانګړې آرامه خونه»، یوازې ستا ځای خالي دی. دغې خبرتیا باید دوې نورې کلمې هم درلودی، دوې کلمې په غټو توریو: «فلیپه مونترو»...

خپل کوچینی بکس را اخلې، پاڅېږې. په دې اندېښنه کې لوېږې چې هسې نه، ستا په څېر کوم بل ځوان تاریخپوه دا خبرتیا لیدلې وي، تر تا مخکې شوی وي او اوس یې دا دنده تر لاسه کړې وي. د واټ په لور ګامونه اخلې. هڅه کوې دا اندېښنه له ذهنه وباسې. د سورلۍ بس ته په انتظار ولاړ یې. نېټې او تاریخونه تکراروې چې د زده کوونکو د پوښتنو پر وخت دې باید د ژبې پر سر وي، ترڅو دې خوبولي زده کوونکي درناوی ولري. بس رانږدې کېږي او ته د خپلو تورو بوټو څوکو ته ځیر یې. باید چمتو وې. لاس جیب ته وړې. په سکو پسې ګوتې وهې او بالاخره دېرش سنتیاوه راباسې. باید چمتو وې. بس ورو کېږي، خو درېږي نه. دستګیر ته لاس اچوې. ورخېژې، په ټېله ټمبه سره لاره مومې. دېرش سنتیاوه بس والا ته ورکوې. د بس په منځ کې د ولاړو مسافرو منځ کې ځان ځایوې. سر خوا ته دستګیر په لاس کې ټینګوې. کوچینی بکس دې پر ځان پورې کلک رانیسې...

# ۲: د درېیم شخص د لید زاویه:

۳

- ❑ د ناول د کیسې په بیان کې د درېیم شخص د لید زاویه ډېر مشهور انداز دی او خورا ډېر لیکوالان ګټه ورڅخه اخلي.
- ❑ په دغه زاویه کې راوي د (هغه، هغوی) له ضمیرونو څخه په کار اخیستنه د ناول کیسه بیانوي.
- ❑ په دې لید کې راوي یا لیکوال د داستان د ټولو کرکټرونو له باطني او خارجي دنیا څخه خبرې کولی شي او د داستان ټولې پېښې تعقیبولای شي.

# د درېيم شخص د ليد زاويې بېلګه: له (بوډا او سيند) څخه




دی یو بوډا و، یکي یوازې په کښتۍ کې سپور و او په «ګلف سټریم» کې به یې کبان نیول، څلور اتیا ورځې سیند ته تللی و، خو یو کب یې هم نه و نیولی. په لومړیو څلوېښتو ورځو کې یوه هلکي هم ورسره مرسته کوله، خو تر څلوېښتو ورځو وروسته چې هېڅ کب په لاس ورنغی، د هلکي مور او پلار، زوی ته وویل چې بوډا بېخي بدبخته شوی دی. هلکي د هغوی په خوله له بل کب نیونکي سره شو، چې په همغه لومړۍ اونۍ کې یې درې غټ کبان نیولي وو.

هلکي به چې هره ورځ بوډا ولید چې تش لاس به له سینده راستنېده، نو غمجن به شو او د بوډا د چنګک مزی، لکړه او تر ستني ګردچاپېره بادوان به یې کوټې ته ورسره وړل. بادوان ته یې د اوړو د جوال پیوندونه ورکړي وو او هر وخت به یې چې په ستنه پسې وتاړه، د هغه بیرغ په څېر په به ښکارېده چې د تل لپاره نسکور شوی وي.

بوډا ډنګر، خو هډور سړی و، ورمېږه یې زیږې ګونځې لرلې او په مخ یې د تورو زخو دانې چې د تودو سیمو د لمر نښې دي لیدل کېدلې. لاسونو یې د لویو کبانو د راښکلو په اثر ژورې لیکې لرې، دا لیکې او داغونه اوسني نه وو، دومره پخواني ښکارېدل، لکه په یوه وچه دښته کې چې اوبو کندې کوندې جوړې کړې وي. بوډا ښه خوړین و، خو د سیند د اوبو غوندې سترګې یې تازه ځلکېدې او داسې ښکارېدې لکه ماتې چې نه مني...

# د درېیم شخص د لید زاویې ښېګڼې:



په دې زاویه کې کرکټر لیکنه، په ښه او آسانه ډول وړاندې کېدای شي. په دې زاویه کې لیکوال کولی شي، د خپل ناول د کرکټر هر اړخ لوستونکې ته وړاندې کړي. هغه که په یوه شېبه کې د خپلو کرکټرونو کړنې ترسیموي، نو په بله شېبه کې بیا د هغو باطني احساسات او افکار بیانوي. هغه کولی شي چې د خپل هر کرکټر کرکې، بدبینۍ او له مینې ډک داخلي احساسات لوستونکو ته بیان کړي او په څنګ کې یې د کرکټرونو د کرکې، مینې او عاطفې ډک فزیکي حرکتونه هم وړاندې کړي.



# د دریم شخص د لید زاویې نیمګړتیاوې:

- د لید په دې زاویه کې کله ناکله لوستونکی له پېښو او کرکټرونو سره د نږدېوالي أحساس لهٔ لاسه ورکوي. دا ځکه چې راوي خپله د یوه کرکټر په توګه د داستان په پېښو کې دخیل نه وي، نو لوستونکي ته ځینې پېښې نارښتیني ښکاري.

- په دې زاویه کې لوستونکی په مستقیم ډول د راوي مخاطب نه وي، بلکې یو نامعلوم څوک کیسه بیانوي، نو ځینې وخت دلوستونکي ذهني اړیکه ورسره پیکه کېږي.

# له پاملرنې
# مو
# مننه !

